Preview (1 / 10) - ketabton.com



ډېر ارام او ښـکلی ژونـد مـې وو، درې زامـن او یـوه ښـکلې ګـل اندامه لور مې نوې پیدا شوې وه. کله کله به مې ورته په ځیر ځیـر کتل، د سترګو جوړښت یې کټ مټ د پلار سـترګو تـه و ښایسـته بادامي سترګې یې وې، رنګ کې یې هم خپل پلار تـه تـرا کولـه او یوازې تېره اوږده پوزه یې ماته وه. لایې پلار نه و لېدلی، د خوبولو په وخت به مې ورته د پلار نوم ارام ارام زمزمـه کـاوه. پـلار یـې پـه روزګـان کـې د مـلي اوردو پـه لیکـو کـې وو. لـه راتلـو یـې راسره راتلونکې میاشت وعده کړې وه، چې راتلـونکې میاشـت لـه خیـره راځم او راته به یې ویل چې رښتیا وایي لور مې ما ته ده، نو ډېر به خوشحاله کېده.

Preview (2 / 10) - ketabton.com



وختونه تېرېده، لـه ژونـده راضي وم، د خوشـحالۍ شـېبې وې غم مې نه پېژانده، په دې هيله ومه چې نن سبا به يې پلار راشي، راته ويلي يـې وو پـه دې بـه زه نـوم ږدم. ورځـې تېرېـدې چـې لـه خاوند سره مې اړيکه نه شوه نيولای. هر وخت به يـې موبايـل بنـد راته او چا به راته د هو او نه ځواب نه راکاوه. پـه دې ورځـو ، شـپو کې روزګان ولايت د خبرونو سر ټکی وو، سـل شـکونه بـه مـې زړه ته راتله.

يوه ورځ راډيو ته ناسته وم، د لور لپاره مې برسـتن ګنډله، چې په خبرونو کې مې تر غوږه شو، چې په روزګان کې د ملي اوردو پر پوستو ډلیز بریدونـه شـوي دي، وسـلوالو مخـالفينو يـو شـمېر پـه شهادت رسولي او څه يې له ځان سره ژوندي وړي دي.

زړه مې له سينې ووت بې حاله شومه، راډيو مې لرې ختا کړه، بې حاله سرتور سر له کوره ووتم. غوبـتل مـې چـې منـډه کـړم او روزګـان تـه لاړه شـم، چيغـې مـې کـړې... ای! خلکـو زمـا خاونـد مړشوی دی. که زخمي دی؟

خلکو راباندې د لېونۍ په شـان ګومـان کـاوه هېچـا ځـواب نـه راکاوه، ته څه وايي مورې خاوند دې څوک وو؟

څه کاره وو؟

ته دکوم ځای یې؟

Preview (3 / 10) - ketabton.com



مور هېڅ‌چا نه پېژندلو، له جنګونو نه ښار ته راکډه شوي وو، له چا سره مو راشه درشه نه وه، پښې يې بله مې په کوڅو کې منډې وهلې، ای زما ژونده! ای زما شيرينه! خير دی ماته يو غږ وکړه.

ته چېرته يې؟

ټول ښار راته بې حاله ښکارېده، هېڅ مې لاس ته رانه وړه. بېرته نهيلې کورته راغلم، د کور مو بايل ته مې بې شمېره زنګونه راغلي وو، بېرته مې زنګ وواهه ود خاوند ملګري مې وو، راته يې وويل خورې! شيرين زخمي دی او کابل ته يې دروړی دی. هلته يې پوښتنه وکړئ! غږ ټپ شو د نورو خبروکولو وس توان راکې نه وو، هېڅوک راسره خواخوږي نه وو. زامن مې چې په ښه او بدونه پوهېده په ګاونډيانو وسپارل او لور مې په غېږ کې ونيوه او د سرخرود، دوسرکې نه په موټر کې وختم، کابل ته ورسېدو، د کرايه پيسې راسره نه وې، موټر وان ته مې کېسه وکړه، ماسره يوه روپۍ هم نه وه. هغه راته لانورې دوسوه روپۍ هم راکړې، خورې دا درسره واخله دا کابل دی. دلته څوک له چاسره مرسته هم نه کوي او ځان دې پرې چهارصد بستر ته ورسوه. زړه مې ورته دعا وکړه، ورته مې له خولې ووته زويه الله(ج) دې درته غم نه ښيي، خدای(ج) دې ځواني وساته.

نابلده وم د کابل په هره کوڅه کې مې سر ښکاره کاوه، ای! د ملي اوردو شفخانه چرته ده؟ چيغې مې کړې هېچا نه پوښتل چې ته چرته ځې؟

Preview (4 / 10) - ketabton.com



ولې چيغې وهې؟

بيا مې يوه ناترسه چيغه کړه. اى! خلکو دا د ملي اوردو شفخانه چرته ده؟

يوې په عمر پخې ښځې مې په سر لاس کېښوده. په موټر کې يې کښېنولم او موټر وان ته يې ووېل دا به چهارصد بستر ته ورسوې، له زړه مې ورته دعا وکړه. په ژوند خوشحاله شې خورې! الله(ج) دې د سرتوره مه کړه.

موټروان هم هغه ځاى ته ورسولم، موټروان ته مې روپۍ ټولې ورختا کړلې او له پولېسو نه مې پوښتنه وکړه؟

اى! شيرين دلته دى؟

راوړى يې دى؟

هېڅ ځواب نه وو، چيغه مې کړه خلکو ماته زما شيرين ولې نه ښيى؟ هغه لکه چې مړ دى، ځکه يې مانه پټوئ. اى وروره! اى پولېسه! زما شيرين دلته دى،

هغه ژوندى دى؟

هېچا مې اواز نه اورېده. د شفخانې په دروازه مې ورمنډه کړه پولېسو نه پرېښودم، ښځينه پولېسه راغله کلکه يې ونېولم، وخورې ته لېونۍ شوې!

ته چرته ځې؟

Preview (5 / 10) - ketabton.com



دلته تاته اجازه نه شته، ما په زور غوښتل چې دننه لاړه شم، هېڅ مې زړه صبر نه کاوه، نه يې پرېښودلم، يو پولېس راغی او په ترخه لهجه يې وويل:

چه ميکنی؟

کجا ميری؟

ما ويل دلته مې خاوند دی ټپي دی هغه ته ورځم. په فارسي يې وويل ای چه ميگه؟ خو هېڅ له دې ځايه نه تلم، بيا مې په دروازه ورمنډه کړه. له پولېسو سره مې خبرې ستغې شوې، له شاخوا بل پولېس د ماشينې په کونداغ ووهلم، ولوېدم په ځان پوه نشوم، لور مې په سرو وينو کې لېت پېت شوه، فکر مې شو، چې سر مې ماته شوی، په ځان نه وم پوه شوې، شېبه وروسته، چې په سدشوم، سترگې مې وغړولې په شفخانه کې وم.

ډاکټر مې سرته ولاړ و. ورته مې وويل ډاکټر صيب!

زما شيرين دلته دی؟

ډاکټر راته هېڅ ځواب نه راکاوه. پټۍ يې رانه لرې کړه. لور مې په خوا کې وېده وه، په تندي يې سره وينه وچه شوې وه د برق رڼا راته تازه معلوموله، لاس مې پرې راښکه پترې يې کړي وو په اسانۍ ترې لرې شو. ډاکټر دباندې ووت، ورغږ مې کړه ای ډاکټر صيب

چرته دی؟

شيرين دلته دی؟

Preview (6 / 10) - ketabton.com



ماته هېڅوک هم څه نه وايي. دا چرته دی؟

دخدای په جاتې لږ خبر خو یې راته راوړئ کنه؟

لکه چې مړ دی، ځکه یې څوک راته څه نه وايي. ډانکټر صیب دا کوم ځای دی، زه مو کوم ځای ته راوړې یم؟

خورې دا وزیر اکبر خان شفخانه ده. دا ته یې چې یادوې شیرین څوک او څه کاره دی؟

ډانکټر صیب دا مې خاوند دی او په ملي اوردو کې ټپي شوی دی. دلته یې کوم شفخانې ته راوړی دی هېڅوک ما ته ځای نه ښیي. ډانکټر صیب په خدای به شي او په تا به شي ما لږه وروله دا چرته دی؟ زه راځم خورې یوه شېبه تم شه بېرته زر راځم.

ډانکټر صیب کله راځې؟

ډانکټر صیب بیرته راتاو شو. خورې راځه په کرار، کرار، چې سر دې شپږ ټکه خوړلي دي. منډې مه وهه، هسې نه چې کوم ټکونه دې ایله نه شي. ډانکټر صیب شیرین ژوندی دی دلته دی، که لرې دی ما ورته وروله؟ نه خورې نږدې دی. هو ولې نه هم هغلته ور روان یو، ته صبر چې پولیس راته دروازه خلاصه کړي. ډاکټر صاحب راځئ، راځئ مهرباني، دا زنانه هم تاسره ده؟ بلی هو

دا راپرېږدئ.

ډانکټر صیب شیرین دلته دی؟

Preview (7 / 10) - ketabton.com



هو هم دلته دی ماپسې راځه، چې وردې ولم، زړه مې بد شو، بد بوی وو، هرې خواته کتار، کتار تابوتونه ایښي وو، څېرې پکې نه ښکارې دې یوازې عکسونه ورپورې شوې وو، په هر یو تابوت مې سر ورښکته کاوه له هیبته مې پر سترګو کې اوښکې وچې وې، بې حاله روانه وم، لکه لېونۍ ډاکټر صیب هم رانه ورک شو، هر چا به خپل مړي لټول زما په څېر لسګونه ښځې او نارینه نور هم راغلي وو. حوصله مې ختمه شوه، ناڅاپه مې چیغې کړې ټول ډاکټران راته اریان دریان ګوري او زما په خوله د شیرین نوم بې ارادې زمزمه کېده، له هر تابوت نه مې غبرګ چاپېرولــه، خو د شیرین څېره پکې نه ښکارې ده، د شیرین د بدن کومه خوشبو چې ما پېژنده هېڅ نه وه.

د هرې خونې په دروازه مې منډه کوله، هېڅ مې نه ترسترګو کېده، خلک هم د شیرین په لټه کې شو. یوه بې خونده ساعت و ټول خلک لکه ګونګیان ماته په فکر کې ولاړ وو، یوه هیبتناکه غوغا جوړه وه، شیرین مې پیدا نه کړ هم هغه ډاکټر ولېدمه، راته یې وویل خورې! ماپسې راځه، شور دې جوړ کړی دی، راځه چیغې ډېرې مه وهه! نورو ناروغان هم ځورېږي. شیرین مې درته پیدا کړی دی. ته دې حوصله لږه په ځای کړه، ورمنډه مې کړه، ډاکټر مې له ګرېوانه راونېوه،کوم دی؟ ته ماته دروغ وایې هغه مړشوی دی. دلته کوم یو تابوت کې دی؟ په یوه کې مې هم پیدا نه کړ، ټول مې ولټول. هغه چرته دی؟ چې ناڅاپه د خونې دروازه

Preview (8 / 10) - ketabton.com



ايله شوه سترګې مې په شيرين ولګېدې په ځان پوه نه شوم لور مې رانه ولوېده، د شيرين په کټ ورپرېوتم. ډاکترانو راجګولم، خوزما له شيرينه لاسونه کلک تاوو، هېڅ رانه نه شو بېلولای، د شيرين له خولې يو کلمه نه راوته، پوزې ته يې پايپونه ورتېر شوي وو، د ناروغانو جامې وراغوستې وې، سترګې يې کاسوکې ورډوبې شوې وې، اوږده وېښته يې په غوړونو راپراته وو، په لاس يې ما ورتړلی له درې رنګو جوړ بند سور شوی وو.

سر ته يې کښېناستم د اوښکو سېلاب مې د بدن يوه برخه هم وچه نه وه پرېښې، ډاکټرانو هېڅ نږدې نه ورته پرېښودم، چې په سينه ورته سر کېږدم. له لرې مې ورته لېدل، سترګې يې پټې وې چوپتيا خوره وه. شېبه وروسته هم هغه ډاکټر راته لور راوړه اوتر اوتر يې کتل، نه پوهېده، نه يې پېژانده چې دا څوک دی؟

فکر مې شو د شيرين ساه بې واره شوه. زړ مې منډه کړه، ډاکټر مې راوست زه يې دباندې واويستم، بيا يې راته وويل نه خورې ده ته يو ورځ کې زر سي سي وينه پکار ده. وينه يې ډېره ضايع شوې ده. هکه پکه شومه، خه خدايه! وينه به ورته له کومه پيدا کوم؟

اې ډاکټر صيب دا زما وينه ورته ورکړئ. نه خورې ما ته هغه ډاکټر صيب وويل، چې تا هم زياته وينه ضايع کړې ده، ته خپله هم کمزورې يې، ورته وينه نشې ورکولای.

Preview (9 / 10) - ketabton.com



د باندې ووتم په کاغذ ډانګټر راته لیکل وکړه. په لویه لار کې ناسته وم، هېڅوک هم پیدا نه شو، نه راسره چا لاس وکړ او نه راسره پیسې وې، چې وینه پرې واخلم هر لور ته مې وکتل هېڅ راسره نه وو، لاړم دسرک په سر مې ډېرې چیغې ووهلې، ای خلکو د شیرین ژوند وژغورئ! که وینه ورنه وړم، شیرین رانه مړ کېږي، ټولې لارې مې ولټولې، هېڅ مې ونه کړه، بله چاره مې نه لرله، فکر مې وکړه دا لور به مې خرڅه کړم. لاړم وزیر اکبرخان شفاخانې مخې ته مې د لور خرڅولو اعلان وکړه. هېچا نه اخیسته، لاس تر زنې ناسته وم. یوه ځوانه ښځه، چې په اندام سلامته ښکارې ده، اوږده وېښته یې له پړونې ښکارې ده، چې په اوږو یې مخامخ رااړولي وو. رو، رو مې راځنګ ته شوه په غوږ کې یې راته وویل خورې شل زره (۲۰۰۰۰) افغانې به درکړم په ما یې وپلوره زه هسې هم اولاد نه لرم، ډېر پام به پرې کومه. ورته مې وویل: خورې په شل زره روپو به، زر سي سي وینه وشي ویل یې هو، زړه نازړه وم لور مې له غېږې نه کوزېده لاسونه یې زما په ګرېوان کې کلک نغښتي وو، بله مې هېڅ چاره نه لرله، لور مې ورکړه. سوزنې یې زما په لاس کې پاتې شوه، ملا مې پرې وتړله. په شاه، شاه مې ورکتل را روانه شوم، چې شیرین ته پرې وینه واخلم، مړې اوښکې مې روانې وې.

کاش چې دا نوم خو مې پرې اېښی وای.

Preview (10 / 10) - ketabton.com



لاړم دد وینـــې ورکولـو ځـای تـه ودرېـدم ب وینـه مـې ورتـه واخېسته. وینه یې ور ته تېره کړه غېبر مې تشه وه بې نومه لور مې په غېږ کې نه وه. هرې خواته مې وکتل، چې هېره یې کړم؛ خو نه کېده هر شېبه به مې سترګو، سترګو ته کېده له ځان سره به مې وویل کاش، چې نوم خو مې پرې اېښی وای، بې دریغه ژړا راغله زړه مې ټینګ نه کړ هېڅ مې نه هېرېده. د شیرین پټوسترګو ته په ننداره شـوم، د لور ځېره بـه یې راځخه هېرولـه، د شـیرین پټوسترګو به مې له سترګو د اوښکو سېلاب روانولو هېڅ یې نه ویل راته، بس خونه زما سوي اهونو او سلګیو نېولې وه.

له خونې ووتم، وینه خلاصه وه، ډاکټر راغی، وینه یې ورته نوره ورتېره کړه، نورې ښځې هم پـه دهلېز کې ولاړې وې. یوه شېبه ورسره ودرېدم د هرې ښځې په غېږ کې به یو ماشوم وو، ما ته به یې خپله لور رایادوله او له سترګو به مې د مړو اوښکو باران روان شو، چې خدای خبر لور به مې چرته وي؟ شوده به یې ورکړې وي کنه، ځنګه به وي؟ په همدې سوچونو کې وم ډاکټر له خونې را ووت سم د واره زه ورننوتم، د شیرین ځنګ کښېناستم. د روزګان په ګردونو خړ پړ، تور پېکی مې یې لـه پټـو سترګو لـرې کولـو، اوږده بانـه یـې سترګو بانـدې د جـال پـه ځېر پراتـه وو. د شیرین پټو سترګو را نه شپه او ورځ غلطه کړې وه، د ژوند په ځکه نه پوهېدم.

PREVIEW

# You've reached the end of the preview.

Purchase the full book to continue reading.

**Buy this book - ketabton.com**

https://ketabton.com/books/7CM3DGCDUmh

Preview on ketabton.com. Rights remain with the author or publisher.